# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

(خبرپاڼه)

ګڼه: ۱۲

نېټه: ۱۴۰۳/۱۲/۱۶



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي او د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د اوبو نړیوال کنفرانس کې د محترم ملا صاحب ګډون

۲- ملي تدارکاتو کمېسیون کې د یو شمېر پروژو منظوري

۳- د بغلان د بورې فابریکه فعاله او تولید یې پیل کړ

# د اوبو نړیوال کنفرانس کې د محترم ملا صاحب گډون



د لوړو زده کړو وزارت په رهبرۍ د کابل پولي تخنیک پوهنتون له لوري د لويې جرگې تالار کې د اوبو نړیوال کنفرانس جوړ شوی و چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کې وینا وکړه.

محترم ملا صاحب په خپلو خبرو کې اوبه د انسانانو، حیواناتو او نباتاتو د ژوند او د هېوادونو د اقتصادي ودې او پراختیا له پاره مهمې وبللې او زیاته یې کړه چې له اوبو سره سم چلند د یوې اسلامي ټولنې مکلفیت دی. د محترم ملا صاحب په خبره، له نړۍ سره د سیالۍ، اقتصادي ودې او د راتلونکو نسلونو د حقونو د خوندیتوب له پاره اړینه ده چې اوبه په مسلکي ډول مدیریت شي، ځکه دا ستر ملي مکلفیت دی.

محترم ملا صاحب یاد کنفرانس ته وویل، د هېواد په معاصر تاریخ کې د اوبو له ستر نعمت سره د بېلابېلو عواملو له امله مسلکي او ملي چلند نه دی شوی، نو په دې اساس د ټولو مسوولیت دی چې له هرې ممکنه لارې او امکاناتو څخه د اوبو د غوره مدیریت له پاره اساسي گامونه واخیستل شي.

اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې او پراختیا له پاره د خپلو اوبو مسلکي مدیریت ته توجه کړې ده او هڅه شوې چې خپلې اوبه په سم ډول مدیریت کړي. د هېواد ځینې سیمې تر ځمکې لاندې اوبو د کمښت له ستونزې سره مخ دي. همدې ستونزې ته په کتو اسلامي امارت په یو شمېر ولایتونو کې ذخیروي بندونه جوړ کړي دي. دغه راز، د هېواد په ډېرو سیمو کې د سیلابي اوبو د کنټرول او تر ځمکې لاندې اوبو د تغذیې په موخه لسگونه چکډیمونه جوړ شوي دي.

په هېواد کې د اوبو مدیریت د برېښنا د تولید او کرنې د ودې له پاره هم مهم دی. اسلامي امارت هڅه کوي چې د خپلو اوبو په مدیریت سره د برېښنا تولید زیات کړي. دغه راز، اسلامي امارت د کرنې د ودې په موخه د قوش تېپې ملي او لغمان شاهي کانالونو په څېر لویې پروژې پېل کړې دي چې په بشپړېدو سره به یې هېواد کې کرنه وده وکړي.

د اوبو نړیوال کنفرانس د روان کال د کب په شپږمه نېټه جوړ شوی و چې درې ورځې یې دوام وکړ او گڼو کورنیو او بهرنیو څېړونکو او متخصصینو په کې خپلې مقالې وړاندې کړې.

دغه ډول کنفرانسونه د اوبو برخه کې د پالیسۍ جوړولو او د اوبو د مدیریت او له هغو څخه د سالمې استفادې له پاره ډېر مهم دي. اسلامي امارت د دغه ډول علمي کنفرانسونو ملاتړ کوي او اسانتیاوې ورته برابروي.

# ملي تدارکاتو کمېسیون کې د یو شمېر پروژو منظوري



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه کې د شاوخوا ۳ میلیارد افغانیو په ارزښت ۲۷ پروژې منظورې شوې.

دغه غونډه د روان کال د کب په اوومه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه چې ټولې ۳۷ پروژې په کې د منظورۍ له پاره وړاندې شوې.

له ۳۷ پروژو څخه ۲۷ منظورې او اووه نورې پروژې تعدیل شوې. یوه پروژه لغوه او دوه پروژې د تدارکاتي ستونزو له امله وځنډېدې.

په منظور شویو او تعدیل شویو پروژو کې یوه یې د کابل ښار ختیځه برخه کې د ترانسپورټي ترمینل جوړول او بله یې له کابل څخه کندهار ته د برېښنا د ستنو لګولو او لېن غځولو پروژه وه. د دې ترڅنګ یو شمېر نورې پروژې هم شاملې وې. اسلامي امارت له دې وړاندې هم په ترانسپورټي برخه کې د کابل ښار په بېلابېلو برخو او ځینو ولایتونو کې د ترانسپورټي ترمینلونو جوړول منظور کړي دي.

ترمینلونه د یو هېواد د اقتصادي ودې او ترانسپورټي شبکو د پیاوړي کولو له پاره ډېر مهم دي. د ترمینلونو په جوړېدو سره سوداګریزې چارې چټکې او منظمې کېږي او دغه راز هېوادوالو ته تګ راتګ کې اسانتیاوې پیداکېږي. هېوادوال کولی شي چې یو ترمینل کې خپلې ستونزې په اسانۍ حل کړي او له یو منزل څخه بل منزل ته بې له ستړیا او وخت ضایع کېدو سفر وکړي.

دغه راز، اسلامي امارت له کابل څخه کندهار ته د برېښنا د ستنو، سبسټېشنونو جوړولو او لېن غځولو پروژه کې هم د پروژې د ښه ترسره کېدو له پاره لازم تعدیلات راوستل. د یادې پروژې هدف له کابل څخه کندهار ته د برېښنا لېږدول دي چې د برېښنا د لېږد سره به په کندهار کې برېښنا زیاته او صنعتي او کاروباري فعالیتونه به ورسره وغوړېږي.

کندهار د افغانستان مهم سوداګریز او صنعتي ولایت دی او اړینه ده چې هلته د صنعتي فعالیتونو له پاره کافي برېښنا موجوده وي.

برېښنا د یو هېواد د اقتصادي ودې له پاره ډېره مهمه ده. اسلامي امارت د هېواد له داخلي سرچینو څخه د برېښنا د تولید له پاره هڅې کړې او په دې برخه کې یې د اوبو او لمریزې برېښنا ګڼې پروژې پېل کړې دي چې په بشپړېدو سره به یې هېواد کې کافي برېښنا ترلاسه شي.

# د بغلان د بورې فابریکه فعاله او تولید یې پیل کړ

د بغلان بورې فابریکه چې اوږده موده له کاره لوېدلې وه، د اسلامي امارت د هڅو په پایله کې بېرته فعاله او د بورې تولید یې پیل کړ.

د بغلان ولایتي مسوولینو ویلي، یاده فابریکه د هېواد ملي سرمایه ده او د فعالیت له بیا پیل سره به یې نه یوازې ځوانانو ته د کار زمینه برابره شي، بلکې د هېواد اقتصاد ته به هم وده ورکړي.

د بغلان بورې فابریکه په ۲٤ ساعتونو کې تر ۸۰۰ ټنو پورې د بورې د تولید وړتیا لري. اوسمهال په یاده فابریکه کې ٦۰ تنه په مستقیم او ۳۰۰ تنه په غیر مستقیم ډول په کار بوخت دي.

د یادې فابریکې د جوړېدو بنسټ په ۱۳۱۹ کال کې اېښودل شوی و چې دوه کاله وروسته یې د بورې تولید پیل کړ. یاده فابریکه پر افغانستان د شوروي تر یرغل پورې فعاله وه، خو د شوروي اشغال له پیل سره د یادې فابریکې فعالیت ورو ورو بندېده چې په ۱۳۷۰ کال کې یاده فابریکه په بشپړ ډول له فعالیت



څخه ولوېده. په افغانستان کې د کورنیو جګړو پر مهال هم یادې فابریکې ته ډېر زیان ورسېد. د کافي خامو موادو نشتون هم هغه څه و چې د یادې فابریکې پر فعالیت یې منفي اغېز درلود. افغانستان اوسمهال ډېره بوره له ګاونډیو هېوادونو څخه واردوي چې کیفیت یې ډېر ښه نه دی. د یادې فابریکې مسوولینو ویلي، د بغلان بورې فابریکې بوره د کیفیت له مخې له هغې بورې غوره ده چې له نورو هېوادونو څخه افغانستان ته واردېږي.

اسلامي امارت د هېواد د بیارغونې او ځان بسیاینې له پاره مټې رابډ وهلې دي. په همدې اساس یې د هېواد له کاره لوېدلو فابریکو بیارغونې او فعالولو ته ځانګړې توجه کړې ده. اسلامي امارت د بغلان بورې فابریکې څخه وړاندې په بغلان کې د غوري سیمنټو فابریکې بیارغونې ته هم پاملرنه وکړه. ډېرې برخې یې فعالې کړې او د سیمنټو د تولید ظرفیت یې لوړ کړ.